# شمالي وزيرستان: د پاکستان او افغانستان په پوله ټي ټي پي ته درنه مرګ ژوبله اوښتی

تيره شپه دشمالي وزيرستان سره نزدې دپاکستان اؤ افغانستان په سرحدي سيمه کې امنيتي ځواکونو دترهه ګرو د باړ کټ کولو او پاکستان ته د داخليدو هڅه ناکامه کړې ده۔

**د تفصيلاتو له مخې، د پولې په پوسته کښ تعينات د پاکستان امنيتي ځواکونو وخت په وخت د باړ په لور د ترهګرو تګ راتګ څارلی او هغه مهال يې په نښه کړل کله چې دوی د باړ د پرې کولو هڅه کوله۔ د ډزو په تبادله کې څلور ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ژوبل شوي دي۔**

د پاکستان امنيتي ادارې د هېواد د جغرافيايي پولو د ساتنې لپاره تل چمتو دي او د سولې په وړاندې د ناپاکو ارادو د شنډولو پوره وړتيا لري. انشاءالله ډير ژر به د ولس په همکارۍ د ملت ضد خوارج د عبرت ناک انجام سره مخ کړی شي۔